AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۸/۱۴

# محمد نواز حقیقت سانین

# د کوچنیانو د ادبیاتو یو هیر شوی غمخور



شاعر، لیکوال، ژورنالست او څیړونکی محمد نواز حقیقت د شپیتمي لسیزې د پیل له کلونو را په دیخوا پیژنم. دا هغه وختونه وو چي کله، کله به په کابل کې د ځینو فرهنګي مؤسساتو له خوا ځانګړې مشاعرې جوړېدې او یا به د یونیم علمي سیمینار د پروګرام په پای کې مشاعره په نظر کې نیول شوې وه، بیا به نو شاعرو اشنایانو د مشاعرې په پای کې بنډارونه سره جوړول.

په یادو محفلونو کې به محمد نواز حقیقت تل له خندا ډکه خوله او صمیمي و، له هر چا سره به یې داسي چلن کاوه، لکه د خپلې کورنۍ غړی یې چي وي.

په خواشینۍ سره چي په دې نږدې ورځو کې کومه نا روغي وربپېښه شوې ده چي په اوریدو سره یې ډېری دوستان خوابدي او غمجن شول. د حقیقت صاحب د ناروغتیا خبر مې د محترم دوست او ښه شاعر پرګنیز صاحب په پاڼه کې ولوست. د پرګنیز صاحب د پوست متن دا دی:

«لاسونه لپې کړئ!

درونډ او مینه ناک شاعر او لیکوال، د ماشومانو بابا، د قلم د ټولنې رئیس؛ محترم الحاج داکترمحمد نواز



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

حقیقت <سانین> صیب چې د لوړ فشار له امله د فلج خواته تللی و، د ناجوړی په بستر پروت دی،
د زړه له تله ورته دوعا وکړئ»

د دې خبر په لوستلو سره زه هم وارخطا شوم او رنګارنګ خبرې مې په زړه کې راتیرې شوې، خو یوه ورځ وروسته مې چې د مسنجر له لارې پرګنیز صاحب وپوښت، را ته وې لیکل چې د خدای په فضل اوس له خطر نه وتلی دی، د ښاغلي حقیقت د ښې روغتیا په هیله!
په همدې کې وو چې ما ته د حقیقت صاحب ډیر خواږه تیر خاطرات را په یاد شول او کله مې چې د پرګنیز صاحب په مرسته د ده وروستۍ بیوګرافي ولوستله، نو پوه شوم چې حقیقت صاحب خپلو خلکو، خپل وطن، خپل فرهنګ او په تیره د کوچنیانو ادبیاتو ته له انتظار نه ډیر کار کړی دی؛ نو مې زړه کې تیر شول چې باید د ده پر فرهنګي کړو کارونو یو څه ولیکل شي.
زما هیله دا ده چې د حقیقت صاحب پر ټولو تر سره شوو فرهنګي کارونو باندې څیړونکي کار وکړي. زه به د اوس له پاره د یوې لنډې مقالې په ترڅ کې یوازې د کوچنیانو له پاره د ده د تر سره کړو کارونو یادونه وکړم:
ښاغلی محمد نواز حقیقت سانین په ۱۳۳۹ کال په کونړ کې زیږیدلی. له لومړنیو زدکړو نه وروسته یې د افغانستان په دومره کړکیچونو او ستونزو کې په ډیره مینه، تر فوق لیسانس پورې پورې ځان رسولی دی.
د خپلو فرهنګي کارونو په لړ کې یې له هیڅ مثبت ګام نه مخ نه دی اړولی، د فرهنګي ټولنې مشري یې کړې، د «غونچه» په نامه یې مجله تاسیس او چلولې ده او تر ټولو مهم دا چې د نورو ارزښتمنو آثارو د لیکلو تر څنګ یې، د وطن نوی نسل نه دی هیر کړی او ګڼ شمیر آثار یې ورته تخلیق کړیدي، ان تر دې چې په ۱۳۹۰ کال د ځینو قلموالو او هرهنګیانو له خوا «د ماشومانو د ادب بابا» لقب ورکړل شوی دی.




شاعر، لیکوال، ژورنالست او څیړونکی محمد نواز حقیقت د خپل ژوند په اوږدو کې له ډیرو ناخوالو او ستونزو سره مخ شوی دی، خو ده خپل همت نه دی بایللی او خپل قلم یې د وطن او خلکو په ګټه چلولی دی، داسې چې دا دی نن خبرې او بحثونه ورباندې کیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ما (آصف بهاند) د شپيتمي لسيزې په پيل کې، کله چي د کوچنيانو پر ادبياتو څېړنيز کار پيل کړ، د کوچنيانو د ادبياتو د ليکوالو په ډله کي مي د ښاغلي محمد نواز حقيقت يادونه کړې وه، هغه هم په دې ډول:

د کوچنيانو ادبيات، دويم ټوک په ديرشم (۳۰ ام) مخ کې د **«له ۱۳۵۷ کال نه وروسته تر جهادي واکدارۍ پورې د تر سره شوو کارونو بيلګې»** سرليک راغلی دی. د دې سرليک په يوه برخه کي ما ليکي دي چي:
«ما د خپل کار په موده کي د کوچنيانو ادبياتو له پاره قلموال په دوو برخو وويشل:

۱ــ د کوچنيانو د ادبياتو مسلکي ليکوالان،
۲ــ د کوچنيانو ادبياتو غير مسلکي ليکوالان.

البته په هغه وخت کي له مسلکي او غير مسلکي نه موخه دا نه وه چي مسلکي دی هغه چا ته ووايم چي د کوچنيانو د ښووني روزني، يا د هغو له پاره د څه ليکلو په برخه کي دې زدکړې کړې وي او يا له کوچنيانو سره د ځلند او خبرو کولو په برخه کي د زدکړو خاوند کسان او يا د کو چنيانو د روان پيژندنې په برخه کي ماهرين، دا به مسلکي وي او پرته له دې زدکړو به غير مسلکي وي. داسي نه وه. په هغه وخت کي د مسلکي ليکوال له ليکلو نه زما هدف دا و چي مسلکي ښاغلو به په تصادفي ډول نه، بلکي په شعوري ډول کوچنيانو او د هغو ادب ته پام و او يو څه يي په عمدي يا شعوري ډول ورته کار کړی وي، چي هغه دا ښاغلي دي:

محمد عثمان نژند چي يوخوايي د مسؤليت احساس کړي او له بل پلوه يي وظيفه د ښووني روزني د تاليف او ترجمي يا د درسي کتابونو د ليکلو په برخه کي وه چي د وظيفي له مخي يي د ښوونځي د کتابونو له پاره د ماشومانو په ژبه تراني ليکلي. کوچنيانو ته شعرونه، کيسي او کتابونه برابر کړي.
حبيب الله زړه سواند چي يو نظامي صاحب منصب و، خو د خپلي شاعرۍ په څنګ کي يي په جدي پام سره د کوچنيانو له پاره هم کار کاوه.
دغه راز محمد جان فنا چي په اصل کي د نظامي برخي زدکړی و، خو د مسؤليت له مخي يي د کوچنيانو د روزني او ادبياتو له پاره په څو برخو کي ډير مهم کارونه تر سره کړي دي. ده د ادبياتو له ساحي د باندې ډير پيچلي علمي او هنري مسايل د کوچنيانو په ژبه او د دوی له ذوق سره سم، د دوی له پاره برابر کړي دي. په هغو برخو کي چي دماشومانو له پاره محمد جان فنا کار کړی دی دا دي:
اقتصاد، رياضي، فزيک، هندسه، ارکيالوژي، الاهيات، اخلاق، پتالوژي، احصايه، بيالوژي، ارتوپيدي او نور اجتماعي او ساينسي مضامين. (بهاند آصف، د کوچنيانو ادبيات، د چاپ او خپرونو دولتي کوميټه، کابل، ۱۳۶۶ کال، ۱۲۳ ــ ۱۲۴مخونه)

څو نور ښاغلي چي ما په خپل کتاب کي د مسلکي تر سر ليک راوستي دا دي:
صالح محمد کندهاری، استاد ګل پاچا الفت، شمس الدين مجروح، عبدالروف بينوا، سلطان محمد صابر، غني خان غني، سلطان فريدي، هميش خليل، احسان آرينزی او... (د کوچنيانو ادبيات، ۱۰۴ ــ ۱۲۰مخونه)

غير مسلکي مي هغه چا ته ويلي دي چي کله يي تصادفي د کوچنيانو له پاره کوم شعر ويلی او يا يي کوم نثر ليکلی يا يي د اماتور په ډول د کوچنيانو ادبياتو په ساحه کي کله قلم چلولی او کله غلي پاتي شوي وي. په هغه وخت کي يي ما داسي لست برابر کړی و:
سرورزی، شيوا، نجيب الله، نور الله لودين، ګرندی خوږياني، ريدی ژواک، ښادمن، ط بډک، رحمان الدين اکبري، شير خان رښتين، ورمه رښتين، عتيق الله ولسيار، اجمل روهي، خوشال روهي، محمد آصف فهيمي، م نواب عبهر، محمد معصوم سهاک، ع حميد وردک، حميد الله اميني، تاتيوال، احمد بريڅی، محمد اسماعيل څرين، نور محمد، دوست محمد، بصير اميري، محمد ايوب علومي، وحيد، م متين، مصطفی جهاد، منت بار، عبدالغفار، زرغونه اياز ځاځی، زمری کليوال، مهريه هوتکي، نانی، سعدالله وطن، ح ياسيني، فاطمه صيامي، غلام حضرت همکار، رحمت، عبدالخليل سودايي، ، شاه محمود حصين، مجاور احمد زيار، حافظ محمد ادريس، سيال کاکړ، فاروق فردا، محمد نواز حقيقت، غلام حضرت روغمن شګيوال او... (د کوچنيانو ادبيات، ۱۲۲مخ )

دلته ليدل کيږي چي ښاغلی حقيقت، د غير مسلکي ليکوالو په ډله کي راوړل شوی دی. دليل يي هم دا و چي په هغه وخت کي، يو خو ښايي ده د کوچنيانو له پاره تازه تخليقات پيل کړي وو او يا به دا وو چي د کوچنيانو له پاره به يي تخليقات کړي وو، خو زما له نظره به نه وو تير شوي، په هر صورت دا زه د خپلي هغه وخت د څېړني نيمګړتيا ګڼم.
وروسته له هغه حقيقت صاحب د ماشومانو او کوچنيانو له پاره د قدر وړ کارونه کړي دي، چي څو بيلګې يي دا دي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ـ سپینه کوتره، شعري ټولګه (د ماشومانو له پاره)،

ـ د لمر ترانې، شعري ټولګه (د ماشومانو له پاره)،

ـ ختین کورونه، شعري ټولګه (د ماشومانو له پاره)،

ـ د هیلو غوټۍ شعري ټولګه (د ماشومانو له پاره)،

ـ د رڼا لاره، شعري ټولګه (د ماشومانو له پاره)،

ـ جنګي اس، (ماشومانو ته د خوند او پند کیسې)،

ـ شملې او لوپټې (د کوچنیانو او زلمیانو له پاره خواږه شعرونه)،
او...

ښاغلي محمد نواز حقیقت د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د کړو کارونو تر څنګ، په نورو برخو کې هم ګڼ شمیر آثار لیکلي دي. زما د معلوماتو له مخې ده د کوچنیانو له پاره د تخلیقاتو تر څنګ، ګڼ شمیر آثار لیکلي دي، چې ما ته د معلومو آثارو نومونه یې دا دي:

۱ ـ سپینه کوتره، شعري ټولګه (د ماشومانو له پاره)،

۲ ـ د لمر ترانې، شعري ټولګه (د ماشومانو له پاره)،

۳ ـ ختین کورونه، شعري ټولګه (د ماشومانو له پاره)،

۴ ـ د هیلو غوټۍ شعري ټولګه (د ماشومانو له پاره)،

۵ ـ د رڼا لاره، شعري ټولګه (د ماشومانو له پاره)،

۶ ـ جنګي اس، (ماشومانو ته د خوند او پند کیسې)،

۷ ـ ورکه سپوږمۍ، (شعري ټولګه)،

۸ ـ کږې لارې، (شعري ټولګه)،

۹ ـ د مورچل ترانې، (شعري ټولګه)،

۱۰ ـ پیالې، (شعري ټولګه)،

۱۱ ـ سون او روپ، په ګوارشي ژبې شعري ټولګه،

۱۲ ـ ګوارشي ژبه څنګه ولیکو؟ (څېړنیز اثر)،

۱۳ ـ زموږ سرخدونه، زموږ ویاړونه،

۱۴ ـ د شهید همت یادونه،

۱۵ ـ د خپلواکۍ خواږه یادونه،

۱۶ ـ ګوار کوهستان ۱ افغانان،

۱۷ ـ د ادب خزانه،

۱۸ ـ قلم،

۱۹ ـ د پوهې زیورات،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

۲۰ ـ گوار کوهستان دودونه او رواجونه،

۲۱ ـ جنتي سوم،

۲۲ ـ بوراگان،

۲۳ ـ کو، کو، کو ـ وق، وق، وق،

۲۴ ـ اخیر به څه کیږي؟ (رئیس جمهور ته پرانستی لیک)،

۲۵ ـ زمری او موږک،

۲۶ ـ ښکلی نورستان،

۲۷ ـ د الحاج استاد گوار یادونه،

۲۸ ـ شملې او لوپټې (د کوچنیانو او زلمیانو له پاره خواږه شعرونه).

د ښاغلي محمد نواز حقیقت په چاپي آثارو کې د ده د راغلي بیوگرافی د مالوماتو له مخې محمد نواز حقیقت شل (۲۰) نور داسي آثار هم لري چې چاپ ته منتظر دي. زه فکرکوم چي دا لست به د ده د ټولو اثارو او تر سره کړو کارونو معرفي نه وي، که دقیقه څیړنه وشي، نو ښکاره به شي چي حقیقت صاحب په کومو برخو کې څومره کار کړی دی. د افغانستان د فرهنگ په ډگر کې د ښاغلي محمد نواز حقیقت آثار هر یو خپل ځای او ارزښت لري، خو که د افغانستان د نوي نسل روزل او په دې لړ کې د کوچنیانو ادبیاتو ته وگورو، نو د نواز حقیقت هغه آثار چي ده د کوچنیانو له پاره تخلق کړي دي، د ځانگړې پاملرنې وړ دي. په خواشینی سره باید ووایمې د قحط الکتاب د ستونزې په دایره کې زه اوس د ښاغلي حقیقت هغو آثارو ته لاسرسی نه لرم چي ده د کوچنیانو له پاره تخلیق کړي دي، کله مي چي تر لاسه کړل، خامخا به یې څیړم او پر شکل، محتوی او ارزښت باندې به یې خبرې کوم او د پام وړ بیلگې به ورنه را اخلم.

د ښاغلي محمد نواز حقیقت سانین د بشپړې روغتیا په هیله، چي د عادي ژوند د پرمخ بیولو تر څنگ، د ماشومانو او کوچنیانو له پاره نور آثار هم وپنځوي!

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ